مؤسس: عبدالرووف بینوا
تأسیس کال: ۱۳۲۸ لمریز
ورځپانه
هیواد

چهارشنبه | ۲۹ / محرم الحرا م / ۱۴۴۸ هـ ق | ۲۴ / چنګاښ / ۱۴۰۵ هـ ش | 2026/JULY/15 م | خصوصي ګڼه: ۸۶ مه | پرله پسې ګڼه: ۱۰۵۷ مه | دوره: اتمه

ذبیح‌الله مجاهد:

په افغانستان کې د مېرمنو شرعي حقونه خوندي دي

د اسلامي امارت ویاند ذبیح‌الله مجاهد رسنیو ته ویلي، په افغانستان کې د ښځو حقونه د شریعت له نظره خوندي دي. د ښاغلي مجاهد په وینا: اسلامي امارت ځان مکلف ګڼي، چې د ښځو حقونه او اړتیاوې د شریعت په چوکاټ کې برابرکړي.
ښاغلي مجاهد ویلي: «اسلامي امارت د ښځو ټول هغه حقوق چې د شریعت له مخې لازم دي، ورکړي او ځان ورته ژمن ګڼي، نو په دې اړه باید هېڅ اندېښنه ونه شي.»
تر دې وړاندې ځینو څېړو په اسلام اباد کې د اسلامي همکاریو سازمان د ښځو چارو وزیرانو په نهمه غونډه کې د افغان ښځو د حقونو پر تامینېدو ټینګار کړی وو. په همدې حال کې، یو شمېر سیاسي شنونکي باور لري چې د اسلامي همکاریو سازمان کولای شي د اسلامي هېوادونو او د افغانستان د حکومت ترمنځ د لیدلورو د نږدې کولو په برخه کې مهم رول ولوبوي.
د دوی په باور، په داسې غونډو کې باید د اسلامي امارت چارواکو ته هم د ګډون بلنه ورکړل شي.
سیاسي شنونکي، سید عبادالله صادق ویلي: «د اسلامي همکاریو سازمان په غونډو کې د اسلامي امارت نه ګډون منفي اغېزې لري، ځکه هلته د افغانستان، پاکستان او ټولې اسلامي نړۍ اړوند مهمې موضوعګانې تر بحث لاندې نیول کېږي.»
دا غونډه په داسې حال کې ترسره کېږي، چې د ښځو د زدکړو او حقونو موضوع لا هم له اسلامي هېوادونو او نړیوالې ټولنې سره د افغانستان په تعامل کې له مهمو بحثونو څخه شمېرل کېږي.

د افغانستان، روسیې او قزاقستان سوداګرو د ۶.۴۴۶ میلیون افغانیو په ارزښت هوکړه‌لیکونه لاسلیک کړل

د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونه وایي، افغان سوداګرو د روسیې د داغستان او تیومن او قزاقستان له سوداګرو سره د ۴۴۶ میلیونه او ۶۲۰ زره افغانیو په ارزښت هوکړه‌لیکونه لاسلیک کړي دي.
د یادې خونې د خبرپاڼې له مخې، دغه هوکړه‌لیکونه په کابل کې د افغانستان د سوداګرو او پانګوالو او د روسیې د داغستان او تیومن او قزاقستان د ګډ سوداګریز پلاوي ترمنځ د ناستې په ترڅ کې لاسلیک شول.
سرچینې لیکلي، چې په دې ناسته کې د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې مسؤلینو، یو شمېر افغان سوداګرو او پانګوالو او د روسیې او قزاقستان د ګډ سوداګریز پلاوي غړو ګډون کړی و او د سوداګریزو فرصتونو، ظرفیتونو او د همکاریو د پراختیا په اړه یې خبرې وکړې.
د خبرپاڼې له مخې، لاسلیک شوي هوکړه لیکونه د ودانیزو توکو، درملو، خوراکي موادو او کرنیزو خدمتونو برخې رانغاړي.
د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې د کورنیو تولیداتو او محصولاتو د ملاتړ مرستیال عبدالنافع بارکزي، دغه ډول ناستې د سوداګرۍ د پراختیا، د پانګونې د زیاتوالي او د اقتصادي فرصتونو د معرفي کولو لپاره اغېزناکې بللي او د اقتصادي ودې لپاره یې د دولتونو او ...

۲مخ

د امربالمعروف وزیر:

د ارزښتونو درناوی د رسنیو له مهمو اصولو دی

د امر بالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدو وزیر شیخ محمد خالد الحنفي، هرات کې د دې ولایت د یو شمېر رسنیو له مسؤلینو او خبریالانو سره کتلي دي.
په ناسته کې ښاغلي حنفي د رسنیو فعالیتونه ستایلي او ویلي یې دي، چې د رسنیو په فعالیتونو کې د مسلکي اصولو رعایت، مسؤلیت منل او د دیني او ملي ارزښتونو درناوی د اطلاع‌رسونې

له مهمو اصولو څخه دي. ده همداراز د مسؤلو ادارو او رسنیو ترمنځ د همکارۍ پر دوام، د خبریالانو ستونزو ته پر پاملرنې او د دولتي ...

۲مخ

سرلیکنه

له وارداتو تر تولید؛ افغانستان د اقتصادي ځان‌بسیا پر لور

د یوه هېواد اقتصاد هغه وخت پیاوړی کېږي چې د اړتیا وړ توکي په خپل هېواد کې تولید کړي، صنعت یې وده وکړي او د وارداتو پر ځای یې په کورنیو تولیداتو تکیه زیاته شي. هره فابریکه، هر تولیدي مرکز او هر نوی صنعت د اقتصادي خپلواکۍ پر لور یو مهم ګام دی. افغانستان هم نن په همدې مسیر روان دی او وروستي ارقام یې د دې بدلون څرګند ثبوت دی.
د معلوماتو له مخې، افغانستان اوس د شاوخوا ۳۰۰ ډوله توکو او محصولاتو په تولید کې ځان‌بسیاینې ته رسېدلی دی. همدارنګه د هېواد کارخونې په ۵۷۰ بېلابېلو سکټورونو کې تولیدات لري. د دې ترڅنګ، د صنعت او کانونو اوونۍ د پنځم ملي او نړیوال نندارتون په ترڅ کې د نږدې یو میلیارد ډالرو په ارزښت ۵۰ هوکړه لیکونه او سوداګریز تړونونه هم لاسلیک شول، چې د صنعت، پانګونې او اقتصادي ودې لپاره مهم پرمختګ بلل کېږي.
الحمدلله، دا شمېرې ښیي چې افغانستان نور یوازې مصرفوونکی بازار نه دی، بلکې د تولید پر لور په چټکۍ حرکت کوي. پخوا د ورځنیو اړتیاوو ډېری توکي له بهر څخه واردېدل؛ خو نن لسګونه توکي د هېواد دننه تولیدېږي او په سلګونو فابریکې په بېلابېلو برخو کې فعالیت کوي.
دا بدلون زمونږ داقتصاد لپاره یو مهم پرمختګ دی، ځکه هر کورنی تولید د وارداتو اړتیا راکموي، ملي عواید زیاتوي او د بهرنیو اسعارو د وتلو مخه نیسي.
همداراز د صنعت وده زرګونو افغانانو ته د کار زمینه هم برابروي. هره نوې تولیدي فابریکه لسګونه او کله سلګونه کاري فرصتونه رامنځته کوي، د کورنیو تولیداتو کیفیت لوړوي او خصوصي سکټور ته د لا ډېرې پانګونې جرئت ورکوي. همدا لامل دی چې د صنعت پراختیا د اقتصادي ځان‌بسیا تر ټولو مهمه وسیله ګڼل کېږي.
اسلامي امارت په وروستیو کلونو کې د صنعت، سوداګرۍ او پانګونې لپاره د مناسب چاپېریال رامنځته کولو ته ځانګړې پاملرنه کړې ده. سراسري امنیت، د پانګوالو لپاره اسانتیاوې، د ملي او نړیوالو نندارتونونو جوړول او له بېلابېلو هېوادونو سره د اقتصادي هوکړو لاسلیک کول د همدې تګلارې برخه ده. د نږدې یو میلیارد ډالرو په ارزښت د ۵۰ هوکړه لیکونو لاسلیک کېدل هم څرګندوي چې پر افغانستان د کورنیو او بهرنیو پانګوالو باور مخ په زیاتېدو دی.
دا چې نړیوال شرکتونه او پانګوال د افغانستان په صنعتي نندارتونونو کې ګډون کوي او د میلیونونو ډالرو تړونونه لاسلیک کوي، دا د دې څرګندونه کوي چې د هېواد اقتصادي چاپېریال د پخوا په پرتله ډېر بدل شوی دی. دا تړونونه د نویو فابریکو، تولیدي مرکزونو، پانګونې او کاري فرصتونو د رامنځته کېدو لپاره عملي زمینه برابروي.
افغانستان د تولید، صنعت او اقتصادي ځان‌بسیاینې پر لور په ثابتو ګامونو روان دی. ان‌شاءالله د کورنیو تولیداتو ملاتړ، د صنعت پراختیا او د پانګونې زیاتوالی به دا بهیر لا چټک کړي. هره نوې فابریکه، هر نوی تولید او هره نوې پانګونه د افغانستان اقتصادي قوت نور هم پیاوړی کوي او هېواد د یوه مصرفي بازار له حالت څخه د تولیدي اقتصاد پر لور بیایي.

کابل ښار کې د «غیبي بابا» ښارګوټي څه باندې ۵۳۲ جریب ځمکه امارتي تثبیت شوه

د عدلیې وزارت وایي، د مرکزي زون د امارتي غصب شوو ځمکو قضیو ته د رسېدنې ځانګړې محکمې د پرېکړې له مخې، په کابل ښار کې د «غیبي بابا» ښارګوټي څه باندې ۵۳۲ جریب ځمکه امارتي تثبیت شوې ده.
د یاد وزارت د خبرپاڼې له مخې، دا ځمکه د کابل ښار په اوولسمه ناحیه کې موقعیت لري او د ځمکو د غصب د مخنیوي او د غصب شوو ...

۳مخ

افغانستان تېر کال ۱۴۱ میلیونه ډالرو په ارزښت تازه مېوه صادره کړې

د صنعت او سوداګرۍ وزارت وایي: افغانستان تېر ۱۴۰۴ لمریز کال شاوخوا ۲۹۰ زره ټنه تازه مېوه بهرنیو هېوادونو ته صادره کړې چې ارزښت یې ۱۴۱ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسېږي. د وزارت د معلوماتو له مخې، د افغانستان مېوې هند، قطر، متحده عربي اماراتو، د منځنۍ اسیا هېوادونو، روسیې او اروپایي هېوادونو ته لېږدول شوې دي. د معلوماتو له مخې، منې د ۴۴ میلیونه ډالرو په ارزښت د تازه مېوو د صادراتو په سر کې دي او ورپسې انګور او انار ځای لري. سوداګر وایي، اوس

افغان مېوې د پاکستان تر څنګ نورو نړیوالو بازارونو ته هم صادرېږي. بلخوا د هرات چارواکي وایي، چې د روان کال په لومړیو درېیو میاشتو کې له دغه ولایت څخه ۵۳ زره ټنه توکي بهر ته صادر شوي دي.
اقتصادي شنونکي باور لري، چې د تازه مېوو د صادراتو زیاتوالی د هېواد د کرنې او بڼوالۍ د ودې، د بزګرانو د عوایدو د لوړوالي او د بهرنیو اسعارو د جذب په برخه کې مهم رول لري. د دوی په وینا، که د صادراتو لپاره سړې خونې، معیاري بسته‌بندي، پروسس او د ټرانسپورټ اسانتیاوې لا پیاوړې شي، نو افغانستان ...

۳مخ

د هرات والي او ترکي چارواکو د اقتصادي او سوداګریزو همکاریو د پراختیا پر فرصتونو خبرې وکړې

د هرات ولایت مقام رسنیز دفتر وایي، چې په هرات کې د ترکیې جنرال قونسل تزجان قاضي‌اوغلو او د ټیکا دفتر رئیس کورشات اوزدمیر، د هرات له والي شیخ مولانا اسلام‌جار سره لیدنه کړې ده.
په دې لیدنه کې د ترکیې جنرال قونسل او د ټیکا د دفتر رئیس هرات د خپل تاریخي مخینې او موقعیت له مخې ارزښتناک ښار بللی او له افغانستان سره د ترکیې د دوستانه اړیکو د پراختیا او د هرات له سیمه‌ییزې ادارې سره د لا زیاتو همکاریو ډاډ ورکړی دی.
په ورته مهال د هرات والي د ټرانزېټ، سوداګرۍ، اقتصاد او پانګونې په برخو کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو پر پراختیا او پیاوړتیا ټینګار کړی او دغه‌راز نوموړي د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ د بهیر د لا اسانتیا او د همکاریو د پراخېدو ...

۳مخ



برېټانوي ځواکونو افغانستان کې د بې‌ګناه افغانانو په شهیدانولو او بندیانو په ځورونې اعتراف کړی

د برېټانیا «سکای نیوز» رسنۍ راپور ورکړی، چې د افغانستان د جګړې د پلټنې کمېسیون ته د برېټانوي پوځ یوه پخواني غړي او یوې پخوانۍ خبریالۍ په خپلو شهادتونو کې اعتراف کړی، چې برېټانوي ځواکونو په افغانستان کې بې‌ګناه افغانان شهیدان او له افغان بندیانو سره یې ناوړه او سپکوونکی چلند کړی دی.
د پخواني پوځي غړي کریسټوفر ګرین په وینا، برېټانوي ځواکونو د «رحیم» په نامه کلي کې درې افغان کروندګر وروڼه شهیدان کړي وو، سره له دې چې استخباراتي معلوماتو ښودله هغوی له وسله‌والو سره ...

۳مخ

د پنجشېر څه باندې ۳ زره قیراطه زمرد وپلورل شول

د پنجشېر ځایي مسؤلینو د دغه ولایت له کانونو د تازه استخراج شویو زمردو د پلورلو خبر ورکړی دی. د پنجشېر د والي ویاند سیف الدین لټون باختراطلاعاتي اژانس ته ویلي، چې یو ځل بیا د هېواد پر سوداګرو ۳ زره ۹۵ قیراطه زمرد د ۲ میلیونه ۱۱۹ زره افغانیو په ارزښت د کانونو د څارنې کمېټې، د سیمه ییزو چارواکو او سوداګرو په شتون کې د داوطلبۍ له لارې وپلورل شول.

نوموړي زیاته کړه، چې تر دې وړاندې هم د بولۍ له لارې د هېواد پر سوداګرو زرګونه قیراطه زمرد پلورل شوي دي. په ورته وخت کې د پنجشېر د کانونو او پټرولیم رئیس مولوي محمد قاسم امیري وایي، چې د اسلامي امارت د کانونو ...

۳مخ

هند له افغان راستنېدونکو سره د نږدې ۲۳ میلیونه افغانیو په ارزښت مرسته وکړه

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت خبر ورکړی، چې له افغانستان سره د مرستو پر دوام د هند سفارت له دغه وزارت سره د راستنېدونکو د لومړیو اړتیاوو پوره کولو په موخه د شاوخوا ۲۲ میلیونه ۶۰۵ زره افغانیو پر ارزښت د ۱۵۰۰ خېمو مرسته وکړه.
یاد وزارت په یوه خبرپاڼه کې د دغو

مرستو له کبله مننه کړې او ویلي یې دي، چې دغه خېمې به تر ارزونې وروسته په عادلانه ډول مستحقو راستنو شویو کورنیو ته ووېشل شي.
همدارنګه یاد وزارت له ټولو هغو مرستندویو هېوادونو او موسسو څخه، چې له زیانمنو کورنیو او راستنېدونکو سره مرستې کوي، مننه وکړه او د ورته مرستو د دوام هیله یې څرګنده کړه، تر څو د راستنېدونکو کورنیو د ژوند ښه والي کې مرسته وکړي.

شهروندان از افزایش آلوده گی صوتی شاکی اند

استوار

زندگی کردن در اجتماع آداب و نزاکت های بخصوص و ویژه خود را می طلبد، بهترین شیوه و انداز در سجایای انسانی همان است که انسان بتواند در اجتماع برای همنوعان خویش مفید تمام شود، دین مقدس اسلام نیز روی این ملحوظ تاکید دارد.

هر آن عملی که باعث آزار و اذیت دیگران گردد. کاریست ناپسندیده و خلاف موازین انسانی و اجتماعی که بایسته است از آن بپرهیزیم.

با آنکه مکررآ از سوی مسولین امنیتی امارت اسلامی از ورای رسانه ها و میدیا ها اعلام گردیده است که در مراسم خوشی به ویژه عروسی ها از پتاقی که مایه نارامی مردم می‌گردد هموطنان ما استفاده ننمایند، اما بازهم طوریکه دیده و شنیده می شود یک تعداد از شهروندان در مراسم شادی خویش دست به فیر پتاقی زده بدون اینکه اندکی تمکین نموده باشند حتا در ساعات نیمه شب دست به این کار زده خواب و آرامش دیگران را می‌گیرند.

اگر اندکی در زمینه به تعمق فکر کنیم چنین عمل نابخردانه روی صحت خانم های باردار و یک تعداد اطرافیانیکه مریضدار استند، تآثیر منفی داشته و باعث آزار دیگران می‌شود. در نهایت امر همه می‌دانیم که اینکار خلاف آداب اجتماعی بوده، اینکه چگونه و باچه شیوه می‌توان جلو این عمل نادرست را گرفت راه های معقولی وجود دارد. بایسته است ریشه این پدیده در نطفه خشک نمود اینکه پتاقی از کجا و توسط کی ها چگونه داخل کشور ما می‌گردد و در بازار ها عرضه می‌شود. می‌دانیم باید بازرگانانیکه پتاقی را به داخل کشور وارد می نمایند به غرض منافع خود دست از وارد کردن آن بردارد و در ضمن نیروهای امنیتی کشور به فروشنده گان آن که دکانداران اند، اجازه ندهند تا با فروش آن آرامش مردم برهم بخورد و در ضمن صدای پتاقی از حیث امنیتی نیز برای نیروهای امنیتی کشور سوء ظن ایجاد می‌نماید.

در کنار این یک تعداد از دست فروشان در کوچه ها وپس کوچه ها در وسایل دست فروشی خویش لودسپیکر ویا بلند گوها را نصب کرده بدون در نظر داشت وقت بام و شام را مراعات نکرده آلوده گی صوتی را در محله ها راه می اندازند. سرو صدای موتر ها بلند گوهای دست فروشان و فیر پتاقی ها همه و همه دست به دست هم داده آلوده گی صوتی را آنقدر افزایش داده اند که خواب و آرامش خانواده را را ربوده اند.

تا جایی گرفتن جلو این همه سرو صدا ها مربوط نهاد های ذیربط می‌شود اما نباید فراموش کنیم که ما هم به حیث شهروندان در زمینه جلو گیری آوده گی صوتی مسولیت اجتماعی داریم اگر هر فرد و هرخانواده تمام این نزاکت های اجتماعی را در نظر بگیرند و مراعات نمایند. به یقین شاهد فضای آرام و دور از سرو صدا خواهیم بود، بنآ بهتر است به حیث شهروندان با نهاد های ذیربط در تمام عرصه های اجتماعی، اخلاقی و خدماتی احساس مسولیت نموده همکاری نماییم. زیرا شهر و محیط مربوط همه می‌شود باید در جلوگیری از آلوده گی صوتی، آلوده گی هوا و نظافت شهر خویش منحیث یک شهروند خوب همکاری نموده و برای همشهریان خویش یک هموطن بارع و مفید باشیم نه اینکه باعث آزار و اذیت دیگران شویم. زیرا زندگی در اجتماع حیثیت یک خانواده مشترک را دارد به امید فضای آرام و به دور از سرو صداهای دلخراش برای تمام شهروندان گرامی. آن شاء الله!

گزارش روز

خواست مردم برای مهار قیمت تیل و مواد نفتی

محمدیعقوب

مواد نفتی و تیل از مهم ترین منابع انرژی و مواد خام جهان اند. این مواد، سوخت وسایل نقلیه، کارخانه ها و نیروگاه ها را فراهم می کنند و در تولید هزاران فرآورده مانند پلاستیک، قیر، روغن های صنعتی، ادویه جات و برخی الیاف مصنوعی« تار های ساخته شده به دست انسان» کاربرد دارند. افزون بر این تجارت و صادرات نفت برای بسیاری از کشور ها، منبع مهم درآمد و عاملی موثر در رشد اقتصادی و توسعه زیربنا ها به شمار می رود. البته استفاده خردمندانه و حفاظت از محیط زیست در بهره برداری از این منابع بسیار اهمیت دارد. زیرا ذخایر نفتی محدود هستند و مصرف بر رویه آنها می تواند به آلودگی و تغییرات اقلیمی بینجامد.

در چند روز اخیر افزایش قیمت مواد نفتی به ویژه تیل فشار سنگینی بر امور زندگی مردم به خصوص رانندگان وارد کرده است. گران شدن تیل «پترول و دیزل» و گاز، در کنار کرایه‌های ثابت مسیر، باعث شده تا بخش زیادی از درآمد روزانه رانندگان صرف هزینه سوخت شود و سود خالص آنان کاهش چشمگیری یابد.

به دلیل مشکلات ناشی از برخورد های سیاسی و جنگی های فرامنطقه یی به ویژه جنگ ایران و امریکا، قیمت جهانی مواد سوخت در بازار های دنیا افزایش یافته است. ادامه این روند در امور منطقه و افغانستان نیز اثر گذار بوده، سبب گردیده است تا قیمت مواد مصرفی « پترول، دیزل، گاز مایع» افزایش یابد و تحت تاثیر و نوسانات قرار گیرد.

در حال حاضر، نرخ تقریبی مواد سوخت مورد استفاده در بازارها این گونه است: پترول حدود ۷۵ افغانی در هر لیتر. دیزل حدود ۷۱ افغانی در هر لیتر. گاز مایع حدود ۶۰ افغانی در هر کیلوگرام می باشد ؛ البته این نرخ تقریبی روز است، که احتمال افزایش و یا کاهش را در خود دارد. این عدم ثبات قیمت مواد سوخت مصرفی دلیل پریشانی تعداد زیادی از شهروندان و درایوران وسایط نقلیه شده است.

مشکل اصلی رانندگان ناتوانی در تغییر نرخ کرایه‌ها، هم‌زمان با افزایش بهای سوخت است. این وضعیت یک چرخه معیوب برای رانندگان ایجاد می‌کند. راننده با کرایه ثابت مسافر را جابه‌جا می‌کند؛ در حالیکه هزینه خرید سوخت در همان روز بلند رفته است. بیشتر درآمد روزانه آنان مستقیماً به مصارف خود وسیله نقلیه می‌رود، وپول بسیار کمی برای تامین هزینه‌های زندگی برای شان باقی می‌ماند. از چالش‌های موازی، افزودن به افزایش قیمت مواد سوخت، از چند تای آن یادآور می شوم.

رکود اقتصادی و کاهش مسافر؛ قدرت اقتصادی مردم پایین آمده و افراد کمتری از وسایل نقلیه به ویژه تکسی‌ها استفاده می‌کنند.

تأخیر در کاهش قیمت داخلی؛ با وجود افت اندک قیمت نفت در بازارهای جهانی، کاهش قیمت سوخت در تانک تیل‌های داخلی بسیار ناچیز بوده و در نوسانات قرار دارد، این موضوع شکایت رانندگان را برانگیخته است.

بی ثباتی بازار سوخت و ادامه تنش‌های جهانی، دلیل شده اند تا مشکلات جدیدی در روند تأمین مواد سوخت به وجود آورده اید . روسیه که یکی از تأمین‌کنندگان مهم فرآورده‌های نفتی برای افغانستان و کشورهای منطقه است، پس از آسیب دیدن شماری از پالایشگاه‌هایش در حملات اوکراین با فشار بیشتری در بخش عرضه سوخت مواجه شده است. همچنان کشور ما بخشی از نیاز خود به سوخت را از ایران و ترکمنستان نیز تأمین می‌کند، اما پس از تنش‌های اخیر، میزان واردات پترول از ایران نسبت به گذشته اندکی کاهش یافته است.

شماری از رانندگان در کابل از افزایش روزافزون بهای تیل و گاز در این شهر شکایت دارند. آنان می‌گویند که بحران‌های اخیر جهانی و به ویژه در خاورمیانه، باعث افزایش بهای تیل و گاز شده و این موضوع بر درآمد روزانه‌شان تأثیر منفی گذاشته است. آنان می‌افزایند: در کنار افزایش بهای مواد سوختی، مجبور به پرداخت مالیه نیز هستیم، که این معضله فشار اقتصادی بر ما را بیش‌تر کرده است. به گفته این رانندگان، هرچند بهای تیل و گاز افزایش یافته، اما کرایه موتر همچنان بدون تغییر باقی مانده و آنان قادر به افزایش آن نیستند.

احمد مرید تکسی درایور در ساحه خیرخانه می گوید: وضعیت بازار مواد سوختی در بازارها، این روز ها ثابت نیست، و بهای مواد سوختی گاهی با نوسان همراه می باشد. این تغییرات قیمت مستقیماً به جیب مسافران و رانندگان فشار وارد می‌کند؛ زیرا با افزایش قیمت تیل و گاز، کرایه موترها هم بالا می‌رود.

یک رانندگان تکسی در کابل می‌گوید: قیمت تیل در این اواخر افزایش یافته است، در مقابل درآمد رانندگان کم‌تر شده می رود. شهروندان توانایی پرداخت کرایه‌های بیش‌تر را ندارند، و بسیاری از رانندگان به سختی مخارج خانواده‌های خود را تامین می‌کنند. با این حال، مجبور هستیم هر روز مبلغی نیز بر درآمد روزانه افزود کنیم، که مسله فشار اقتصادی ما را بیش‌تر می‌سازد. فریدون به نمایندگی از سایر درایوران، به سخنان اش ادامه می دهد: از مسوولان امور ترانسپورت شهری تقاضا داریم، تا در شیوه جمع‌آوری هزینه‌ها و جریمه‌ها بازنگری نموده، و شرایط اقتصادی طاقت فرسا رانندگان و مردم را در نظر بگیرند. او تاکید دارد که ادامه این روند، در کنار افزایش بهای مواد سوخت و کاهش فرصت‌های کاری، مشکلات معیشتی تعدادی ازخانواده‌ها در کابل را نیز افزایش خواهد داد.

افزایش پی‌هم بهای سوخت در بازارهای کشور، نگرانی شهروندان و رانندگان را بیشتر ساخته است. عده ی از آنان می‌گویند: بلند رفتن قیمت پترول، دیزل و گاز مایع، هزینه‌های پیشبرد امور زندگی را افزایش داده، که در نتیجه درآمد روزانه آنان کاهش یافته است. افزایش بهای مواد سوخت و تقاضای پول بیشتر تکسی ران ها از مسافران، به‌صورت غیرمستقیم بر زندگی شهروندان تاثیر گذار بوده، رشد اقتصادی را کندتر می سازد. آنان «رانندگان » برای جبران هزینه‌های خود ناچار می‌شوند، تا کرایه انتقال را افزایش دهند که این موضوع فشار بیش‌تری بر مردم و چرخ اقتصادی وارد می‌کند.

مسئولان اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری کشور، افزایش قیمت جهانی نفت و تیل و مشکلات انتقال را از عوامل اصلی افزایش بهای سوخت در کشور می‌دانند؛ آنان همواره بر افزایش واردات با کیفیت مواد سوختی و ثبات بازار ها در کشور تاکید دارند و تدابیر لازم وجدی را برای جلوگیری ازگران فروشی درنظر گرفته اند. خبر خوش این است که مشکل شهروندان به ویژه مالکین وسایط نقلیه به دلیل افزایش قیمت مواد سوخت ؛ به زودترین فرصت از میان برداشته خواهد. این مشکل جهانی می باشد و نیاز است تا با صبر و حوصله مندی، تحمل گردد.

در کنار این عوامل، وضعیت عرضه در بازار های جهان و منطقه نیز بر قیمت‌ها تأثیر گذاشته است. ولی گپ خوب این است که به دلیل وجود ذخایر قبلی در کشور و مدیریت سالم و مسوولیت پذیر مسوولان امارت اسلامی، بازار مواد سوخت افغانستان، با کمبود شدید نفتی و تیل روبه‌رو نشده است، و آفتابی است که بازار سوخت کشور ما به تناسب سایر ممالک، خیلی با ثبات و مدیریت شده پیش می رود؛ اما شماری از واردکنندگان به دلیل نوسان قیمت‌ها، خرید محموله‌های تازه را کاهش دادند.

محدود شدن تردد در تنگه هرمز، نگرانی‌های گسترده‌ای را در بازارهای جهانی نفت ایجاد کرده است. ادامه این وضعیت باعث افزایش قیمت نفت در بازارهای بین‌المللی و کاهش پیش‌بینی‌های رشد اقتصادی در بسیاری از کشورها، منجمله افغانستان شده است. محدودیت تردد در این مسیر، می‌تواند فشار بر عرضه جهانی نفت را افزایش دهد و در برخی کشورها احتمال کمبود و دسترسی به مواد سوخت را بیش‌تر نماید.

قیمت مواد سوخت نقش اساسی در بلند رفتن هزینه و یا برعکس آن، در امورترانسپورت های شهری و ولایاتی کشور دارد. افزایش قیمت سوخت به‌طور مستقیم روی کرایه موترها، تورم اقتصادی و انتخاب مردم برای سفر تاثیر گذار است.

د افغانستان، روسيې او ...

خصوصي سکټور پر همکاريو ټينګار کړی.

په خبرپاڼه کې راغلي، چې د روسيې د تيومن ايالت د سوداګرۍ خونې مرستيال اليسکويچ د افغانستان د سوداګرۍ خونې له مېلمه‌پالنې مننه کړې، د دغه سفر پايلې يې مثبتې ارزولې او له افغان سوداګرو يې غوښتي چې روسيې ته سفر وکړي.

ده ويلي چې دا همکارۍ به افغانستان ته د روسي توکو د صادراتو او روسيې ته د افغان محصولاتو د لېږد زياتوالي ته زمينه برابره کړي.

د ارزښتونو درناوی ...

او رسنيزو ادارو ترمنځ د همغږۍ پر پياوړتيا ټينګار وکړ.

ښاغلي حنفي زياته کړه، چې رسنۍ د ټولنې د پوهاوي، عامه افکارو د سمې لارښوونې او د خلکو او دولت ترمنځ د اړيکو د پياوړتيا مهمه وسيله ده. د نوموړي په وينا، هغه رسنۍ چې د مسلکيتوب، امانتدارۍ او ملي ګټو په چوکاټ کې فعاليت کوي، د ټولنيز ثبات، فکري ودې او سالمو ارزښتونو په ترويج کې اغېزناک رول لري او کولای شي د هېواد د پرمختګ او د خلکو د يووالي لپاره مثبتې لاسته راوړنې رامنځته کړي.

محتسبينو د ۵ مېرمنو ...

وروسته له هغه يې د نکاح مخه ونيول شوه، چې د يادو ولايتونو د امربالمعروف رياستونو ته د قضيو د حل په موخه عارضې شوې.

د يادولو وړ ده، چې د ياد وزارت محتسبينو تر دې وړاندې هم د ګڼ شمېر مېرمنو د جبري نکاح مخه نيولې وه.

پروان کې له ميلاد ځخه ...

سره همکارۍ ته دوام ورکړي، ترڅو د غير قانوني کېندنو څخه يې په ښه توګه مخنيوی وشي.

د يادې کلا د غره په لمن کې، د فرنجل سيند ته څېرمه، پر يوې سترې ډبرې يو امنيتي برج هم ليدل کېږي، چې د سيمې اوسېدونکي وايي، پخوا به د همدې برج له لارې د کلا اوسېدونکو لپاره د اړتيا وړ اوبه برابرېدې.

د دوی په وينا د کافر کلا په شمال کې يوه لرغونې کليواله سيمه موقعيت لري، چې د بودا کلي په نامه يادېږي او په وينا يې، پخوا به د دغه کلي يو شمېر کورنيو د علي جم خلکو د بريدونو پر مهال د همدې برج دننه پناه اخيسته.

کندهار کې د طبي اکسيجن ...

د اړتيا وړ طبي اکسيجن په منظم او معياري ډول توليد او برابر کړي. همدارنګه، تمه کېږي، چې د دې فابريکې په فعالېدو سره به د ميرويس ولايتي روغتون د درملنې وړتيا نوره هم لوړه او د اکسيجن د کمښت ستونزه تر ډېره هواره شي.

يونيسف زياتوي، چې دا فابريکه به نه يوازې د کندهار، بلکې د سوېلي زون د يو شمېر نورو ولايتونو روغتيايي مرکزونو ته هم د اړتيا پر مهال د طبي اکسيجن په برابرولو کې مرسته وکړي. د دې ترڅنګ، د روغتيايي خدمتونو کيفيت به ښه شي، د ېړنيو ناروغانو د درملنې امکانات به پراخ شي او د سختو تنفسي ناروغيو او نورو بېړنيو پېښو پر مهال به د روغتونونو د چمتووالي کچه لوړه شي.

روغتيايي کارپوهان وايي، د هېواد په بېلابېلو ولايتونو کې د طبي اکسيجن د توليد فابريکو جوړول د روغتيايي زيربناوو د پياوړتيا لپاره مهم ګام دی. د دوی په باور، د دغو فابريکو پر مټ به روغتونونه پر وارداتي اکسيجن لږه تکيه وکړي، د ناروغانو د درملنې بهير به چټک او اغېزمن شي او په اوږدمهال کې به د روغتيايي سکټور د ځان‌بسياينې او دوامداره خدمتونو د پراختيا زمينه هم برابره شي.

اوکراين او نهو اروپايي ...

پر وړاندې د اوکراين له څه باندې څلور کلنې تجربې څخه به د دغه سيستم په طرحه کې مهمه ګټه واخيستل شي.

زلنسکي ويلي، اوکراين او اروپايي شريکان يې کولای شي په راتلونکو ۱۲ مياشتو کې يو کم‌لګښته او په پراخه کچه د توليد وړ دفاعي سيستم جوړ کړي؛ داسې سيستم چې نه يوازې د اروپا دفاعي اړتياوې پوره کړي، بلکې نورو اړمنو هېوادونو ته هم په واک کې ورکړل شي.

په ورته وخت کې، په راپور کې راغلي چې د روسيې ولسمشر ولاديمير پوتين خبرداری ورکړی، مسکو به د روسيې د تېلو پر تصفيه‌خونو، تېل‌لېږدوونکو بېړيو او نورو تاسيساتو د اوکراين وروستيو بريدونو ته «څو برابره په ډېر ځواک» ځواب ورکړي.

هغه ويلي: «هر ځای چې هغوی د روسيې خاوره په نښه کړي، موږ به ورته؛ خو ډېر سخت ځواب ورکړو.»

د ايران پر وړاندې سمندري ...

بلخوا، د ايران د خاتم‌الانبيا مرکزي قرارګاه د ټرمپ دغو څرګندونو ته په غبرګون کې ويلي، تهران به هېڅکله امريکا ته د هرمز تنګي د کنټرول يا مديريت اجازه ورنه کړي. د يادې قرارګاه چارواکو ټينګار کړی، چې د هرمز تنګي امنيت د سيمې د هېوادونو مسؤليت دی او هر ډول بهرنی پوځي حضور به له مناسب غبرګون سره مخ شي.

هرمز تنګی د نړۍ له مهمو سمندري لارو څخه ګڼل کېږي، چې د نړيوالو نفتو او ګازو د صادراتو د پام وړ برخه ترې لېږدول کېږي، له همدې امله د دې لارې په اړه هر ډول سياسي او پوځي کړکېچ د نړيوالو بازارونو او د انرژۍ پر بيو مستقيم اغېز لرلای شي.

افغان اعلانات

عنوان پروژه:
{تدارک قرطاسیه غیر مطبوع}

شماره داوطلبی:
AG/1405/NCB/G-788}
و { HDSPDE/G-05/NCB/OB/1405

نوع قرارداد: بیع بالتقسیط

لوی ریاست نظارت و تعقیب فرامین و احکام ا.ا.ا از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه {تدار ک قرطاسیه باب غیر مطبوع } بابت سال مالی ۱٤۰۵ اشتراک نموده و داوطلبان می توانند سافت کاپی شرطنامه مربوطه را از سیستم تدارکات الکترونیکی و باز افغانستان https://tenders.ageops.af/prs/bid-) ?opportunities-notices) و یا از آمریت تدارکات این اداره واقع دارالامان بدست آورند، آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق اصول تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت } ۱۰:۰۰ بجه قبل از ظهر به وقت کابل { روز } چهار شنبه { تاریخ {۱٤۰۵/۰۳/۲۰{به آمریت تدارکات این اداره واقع دارالامان- ناحیه ششم- کابل- افغانستان ارایه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد. جلسه آفرگشایی به روز{ چهار شنبه } مؤرخ {۱٤۰۵/۰۳/۲۰{ ساعت { ۱۰:۰۰ بجه قبل از ظهر به وقت کابل{ در}بلاک B ، منزل سوم – صالون جلسات مرستیالی مالی و اداری} تدویر می گردد.

قابل ذکر است که ارایه تضمین آفر لازم نمی باشد، اما داوطلبان مکلف اند که اظهارنامه تضمین آفر را مطابق فورم معیاری آن مندرج شرطنامه طور دقیق خانه پری، مهر و امضا نموده، ضم آفر خویش ارایه نماید.

عنوان پروژه:
{اعمار سیستم تصفیه خانه فاضلاب}

شماره داوطلبی:
AG/1405/NCB/W-808}
و {HDSPDE/W-04/NCB/OB/1405

نوع قرارداد: بیع استصناع

لوی ریاست نظارت و تعقیب فرامین و احکام ا.ا.ا از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه { اعمار سیستم تصفیه خانه فاضلاب در تعمیر مرستیالی تفتیش}بابت سال مالی ۱٤۰۵ اشتراک نموده، داوطلبان می توانند سافت کاپی شرطنامه مربوطه را از سیستم تدارکات الکترونیکی و باز افغانستان https://tenders.ageops.af/prs/bid-) ?opportunities-notices) و یا از آمریت تدارکات این اداره واقع دارالامان بدست آورند، آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق اصول تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت } ۱۰:۰۰ بجه قبل از ظهر به وقت کابل {روز} چهار شنبه{تاریخ {۱٤۰۵/۰۵/۰۷{به آمریت تدارکات این اداره واقع دارالامان- ناحیه ششم- کابل- افغانستان ارایه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد.جلسه آفرگشایی به روز{ چهار شنبه} مؤرخ{۱٤۰۵/۰۵/۰۷{ ساعت { ۱۰:۰۰ بجه قبل از ظهر به وقت کابل{ در}بلاک B ، منزل سوم – صالون جلسات مرستیالی مالی و اداری} تدویر می گردد.

قابل ذکر است که ارایه تضمین آفر لازم نمی باشد، اما داوطلبان مکلف اند که اظهارنامه تضمین آفر را مطابق فورم معیاری آن مندرج شرطنامه دقیق خانه پری، مهر و امضا نموده، ضم آفر خویش ارایه نماید.

اعلان داوطلبی

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در داوطلبی پروژه (تهیه و تدارک (۱۲) عدد هاردیسک مورد ضرورت ریاست تکنالوژِی ارتباطی و معلوماتی) دارای نمبر تشخیصه MOF/1405/NCB/G-2116 که به روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان دری وپشتو از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون عقود ادارات امارتی و طرزالعمل تدارکات اجراء میگردد بدست آرند.

تاریخ جلسه قبل از داوطلبی: ۳۰/سرطان/۱٤۰۵ ساعت ۱۱:۰۰ قبل از ظهر

تاریخ مشخص آفرگشایی: ۰۳/اسد/۱٤۰۵ ساعت ۱۰:۰۰ قبل ازظهر

آدرس: سایت رسمی اداره تدارکات ملی (https://tenders.ageops.af)، ریاست محترم عمومی اداره امور ا.ا.ا

شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۱۵٦

آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمیشود.

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

موضوع: نشر اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد پروژه تدارک پرزه جات مورد ضرورت وسایط!

بدینوسیله به تأسی از اصول تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود، لوی ریاست نظارت و تعقیب فرامین و احکام ا.ا.ا در نظر دارد، قرارداد پروژه تدارک پرزه جات مورد ضرورت وسایط را به شرکت محترم خدمات لوژستیکی وحید عثمان دارنده جواز نمبر (D- ۳۵۳۱۱) را به قیمت مجموعی مبلغ (۱٤،۲۰۲،۳۰۰) چهارده میلیون و دو صدو دو هزارو سه صد افغانی اعطاء نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر اعلان الی پنج روز کاری طورکتبی توأم با دلایل آن به مقام محترم لوی ریاست نظارت و تعقیب فرامین واحکام ا.ا.ا واقع شهر نو وفق اصول تدارکات ارایه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد .

اطلاعیه دعوت به داوطلبی

ریاست معارف ولایت لوگر میخواهد که از تخصیص دست داشته سال مالی ۱۴۰۵ خویش به تعداد ۱۷۱ قلم قرطاسیه باب، تجهیزات دفتری مفروشات و سایل خارندوی و تربیت بدنی. را طور قرار داد تهیه نماید. شرکت ها موسساتیکه خواهش قرار داد آنرا داشته باشند بعد از نشر اعلان الی مدت ۲۱ روز تقویمی به مدیریت عمومی تهیه و تدارکات ریاست معارف ولایت لوگر حاضر شوند. شرطنامه را ملاحظه کرده تضمین نقدا اخذ می شود. ۳۵۷۲

اطلاعیه فسخ جواز رهنمای معاملات

جواز شماره ۵۱۹۰ مورخ ۱۴۰۲/۴/۱۷ رهنمای معاملات پکتیا عادل واقع قلعچه ناحیه ۸ شاروالی کابل به نام جمشید خان فرزند احمد خان قابل لغو می باشد.

که بعد از نشر اعلان رهنمای مذکور فاقد اعتبار قانونی بوده هر گاه ادارات دولتی و اشخاص انفرادی بالای موصوف ادعای حقوقی به ارتباط فعالیت جواز مذکور داشته باشند بعد از نشر اعلان الی مدت یک هفته به ریاست عمومی انسجام ، وزارت عدلیه اطلاع دهند. ۳۵۵۹

اطلاعیه تقرری

قرار است محترم فرزاد فرزند عصمت الله دارنده تذکره شماره (۴۹۱۳۶-۰۳۰۱-۱۴۰۰) مسکونه فعلی ناحیه در مربوطات شاروالی کابل بحیث دریور تقرر حاصل نماید نامبرده اگر به دوایر و موسسات مسوولیت داشته باشد الی مدت یک هفته به ریاست مالی و اداری شاروالی کابل مراجعه نموده در غیر آن حق شکایت را نخواهند داشت. ۳۵۵۷

اعلان مفقودی

یک قطعه امرفعالیت جواز خبازی به اسم عبدالرحمن رحمانی ولد غلام مصطفی واقع ناحیه ۲۲ مفقود گردیده از اعتبار ساقط است. ۳۵۶۲

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه جواز، یک قطعه کارت هویت و یک طغرا مهر وکالت دفاع شماره ۲۴۷۲ مورخ ۱۴۴۳/۱۲/۱۷ مربوط محترم علی مدد حکیمی فرزند علی داد که شماره متذکره نیز درج آن میباشد مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشند. ۳۵۶۷

اعلان مفقودی

یک قطعه جواز دوکان لباس فروشی واقع ناحیه اول به اسم علی احمد ولد فقیر حسین مفقود گردیده از اعتبار ساقط است. ۳۵۸۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد جواز سیر موتر نوع کرولا تودی مربوط ریاست ارشاد، حج و اوقاف ولایت پکتیا مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد. ۳۵۷۴

اعلان مفقودی

یک عراده واسطه نوع سوپر کشتم نمبر نمبر ۰۰۱۰۷۶۱۰/LH۱۰۰ انجن نمبر ۲۱-۲۳۰۸۸۹۹۹ و مدل ۱۹۹۴ برنگ سیاه مربوط ریاست سر سبزی شاروالی کابل جواز سیر همراه با یک جوره پلیت عراده فوق الذکر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد. ۳۵۸۳

کابل ښار کې د «غیبي بابا» ...

ځمکو د استرداد کمېسیون له دې وړاندې د هغې موضوع بررسي کړې او د ځمکو د غصب د مخنیوي او د غصب شویو ځمکو د استرداد قانون د ۱۷مې مادې له مخې یې د یادې ځمکې دوسیه رسماً د مرکزي زون د امارتي غصب شوو ځمکو قضیو ته د رسېدنې اختصاصي محکمې ته سپارلې وه.

سرچینه زیاتوي: یادې اختصاصي محکمې د متصرفینو او کمېسیون د اسنادو او مدارکو، املاکي دفاترو له دقیقې بررسۍ او اړوندو ادارو د معلوماتو له اخیستو وروسته مشخصه کړه، چې څه باندې ۵۳۲ جریب ځمکه یې په څلورو کاډستري قطعو کې د دولت په نامه سروې شوې او قیدیت لري.

خبرپاڼه کې راغلي، دې محکمې د ټولو اسنادو او شواهدو له بررسۍ وروسته پرېکړه وکړه، چې د یادې ځمکې له مجموعي څخه دغه اندازه ځمکه امارتي ده او د ځمکو د غصب د مخنیوي او د غصب شوو ځمکو د استرداد کمېسیون ته دې وسپارل شي.

عدلیې وزارت لیکلي، د هېواد په کچه د امارتي غصب شوو ځمکو د بررسۍ، تثبیت او استرداد بهیر په کلکه جریان لري او د ځمکو د غصب د مخنیوي کمېسیون، ولایتي تخنیکي پلاوی یې او اړوندې اختصاصي محکمې د اسنادو، مدارکو او د امارتي ادارو اړوندو معلوماتو له دقیقې بررسۍ وروسته، د امارتي غصب شوو ځمکو په هکله پرېکړه کوي.

افغانستان تېر کال ۱۴۱ میلیونه ...

به وکولای شي خپل صادرات نور هم زیات کړي، نویو نړیوالو بازارونو ته لار ومومي او د هېواد په اقتصادي وده، د کارموندنې په پراختیا او د سوداګریز کسر په کمولو کې اغېزناک ګامونه پورته کړي.

د هرات والي او ترکي چارواکو ...

غوښتنه کړې او هیله یې څرګنده کړې، چې دغه همکارۍ به لا نورې هم پراخې شي.

شنونکي په دې باور دي، چې افغانستان او ترکیه د اوږدمهالو تاریخي او دوستانه اړیکو لرونکي هېوادونه دي او په وروستیو کلونو کې د دواړو لورو ترمنځ سیاسي، اقتصادي او بشري تعاملات دوام موندلی دی. د دوی په وینا: د دواړو هېوادونو د چارواکو او ډیپلوماتیکو استازو دا ډول لیدنې کولی شي د متقابل باور د پیاوړتیا، د دوه‌اړخیزو اړیکو د پراختیا او د سوداګرۍ، پانګونې، بیارغونې او پراختیایي همکاریو د زیاتېدو لپاره مناسب فرصتونه رامنځته کړي.

همدارنګه تمه کېږي، چې د دغو اړیکو پراختیا به د افغانستان او ترکیې ترمنځ د سیاسي همکاریو د لا پیاوړتیا ترڅنګ د دواړو هېوادونو د ګډو ګټو په چوکاټ کې د نویو همکاریزو فرصتونو د رامنځته کېدو زمینه هم برابره کړي.

بریټانوي ځواکونو ...

هېڅ تړاو نه درلود.

همدارنګه، یوې پخوانۍ بریټانوي خبریالې ویلي، چې ځینو بریټانوي سرتېرو به د ساتیرۍ لپاره افغان بندیان له بار پورته کوونکي ماشین (فورک‌لفټ) څخه ښکته غورځول او له هغوی سره به یې ناوړه چلند کاوه.

دا څرګندونې د افغانستان د جګړې د پلټنې کمېسیون ته د محرمو شهادتونو په ترڅ کې شوې دي.

یاد کمېسیون د ۲۰۱۰ او ۲۰۱۳ کلونو ترمنځ په افغانستان کې د بریټانوي ځانګړو ځواکونو د احتمالي جنګي جرمونو په اړه خپلې څېړنې رواني ساتلې دي.

د پنجشیر څه باندې ۳ زره ...

او پټرولیم وزارت په همغږۍ او د ولایت مقام په ملاتړ د کانونو قانوني استخراج پراختیا د خلکو لپاره د کار زمینه برابره کړې، د عوایدو په زیاتوالي کې یې مرسته کړې او د ولایت د اقتصادي ځان بسایني بهیر یې پیاوړی کړی دی. د یادونې وړ ده، چې د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو وروسته د پنجشیر زمرد د شفافو او قانوني داوطلبیو له لارې پلورل کېږي او عواید یې د دولت خزانې ته لېږدول کېږي.

د کورنیو چارو وزیر ...

لپاره په روغتونونو کې بستر دي، باید روغتیایي وضعیت ته یې جدي پاملرنه وشي.

ښاغلي خلیفه سراج‌الدین حقاني، د شهیدانو ارواحو ته د مغفرت دعا کړې، ټپیانو ته یې د بیړنۍ روغتیا هیله څرګنده کړې او ډاډ یې ورکړی، چې له زیانمنو کورنیو سره به هر ډول اړینې مرستې وشي.

د افغانستان او هند ترمنځ ...

هم ټینګار وکړ. د ناستې ګډونوالو څرګنده کړه، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ دوامدار سیاسي تفاهم او منظمې مشورې کولی شي د سیمه‌ییز ثبات، اقتصادي ودې او د دوه اړخیزو اړیکو د لا پراختیا لپاره مناسب فرصتونه رامنځته کړي.

د افغانستان او پاکستان ...

د تړیګلتیاوو دوام نه یوازې د تاوتریخوالي په کمېدو کې مرسته نه کوي، بلکې د دواړو هېوادونو پر سیاسي اړیکو اقتصادي همکاریو او متقابل باور هم منفي اغېز کوي.

دوی ټینګار کوي، چې خبرې، ډیپلوماسي او د ګډو میکانېزمونو رامنځته کول د اختلافونو د حل او امنیتي اندېښنو ته د رسېدنې تر ټولو اغېزناکې لارې دي.

سیاسي شنونکي، فیاض صافي بیا په دې اړه وویل: «د ملګرو ملتونو منشور له هېوادونو غواړي، چې خپل اختلافونه د سوله‌ییزو لارو حل کړي. دواړه لوري باید واقعیتونه په رښتینولۍ بیان کړي او د یو بل حقوق او مسؤلیتونه په رسمیت وپېژني.»

په دې شپو اورځو کې د پاکستان د جمعیت علمای اسلام ګوند مشر هم د افغانستان په اړه د اسلام‌اباد پر سیاست نیوکه وکړه او ټینګار یې وکړ چې د دواړو هېوادونو ترمنځ اختلافونه په زور نه حل کېږي، بلکې باید د خبرو اترو او ډیپلوماسۍ له لارې پای ته ورسېږي.

د سړکونو پراختیایي پروژو ...

د مرکو په لړ کې ویلي دي: «اسلامي امارت د هېوادوالو ستونزو او ټرانسپورټي خدمتونو ښه والي ته په کتلو سره د کابل ښار په بېلا بېلو سیمو کې د نو سړکونو د جوړولو په اقدام سره ستونزې راکمې او دې برخه کې لازمې آسانتیاوې رامنځته شوي دي.»

له دې ډلې د قلعه شانان سیمې اوسېدونکی' اجمل پاچا' وایي: «پخوا به دلته ډېره ستونزه وه چې د سړک خرابوالي له امله ډېر په عذاب وو؛ خو له کله چې د کابل ښاروالۍ له لوري د دې سیمې سړک جوړ شو، ور سره د بې شمېره ستونزو خلاص شو، ټرانسپورټ کې ښه والی راغلی دی، خپلو کارونو ته ژر رسېدنه کوو او ور سره د ګردونو نه خلاص شوي یو.»

د نوموړي په وینا: «ستونزې په هره برخه کې وې؛ خو د ژمي په موسم کې له ګنو ستونزو سره مخ وو، چې اوسمهال د قلعه شانان سړک په جوړېدلو سره مو هر ډول ستونزې حل شوي او دې برخه کې ټول امتیازات د اسلامي امارت دي چې د هېوادوالو د هر ډول ستونزه د حل په موخه د خند او ځنډ پرته اقدام کوي او ورته رسېدنه کوي.»

د کابل ښار یو بل تن اوسېدونکی، پرویز' وایي: «د کابل ښار دننه د سړکونو د پراختیایي پروژو عملي کولو سره په ډېرو برخو کې سهولتونه رامنځته شوي دي. ګڼه ګونه به وه، لارې به بندې وې، خلک به د خپلو ځایونو پورې په ساعتونو به موټرو کې د ترافیکي ګڼې ګونې له امله انتظار کوه چې د سړکونو د نوي پروژو او ګټې اخیستنې ته یې د سپارلو سره د ساعتونو انتظار دقیقو ته راښکته شوی دی.»

د ده په وینا: «د کابل ښار دننه د نوو سړکونو د جوړلو سره په بېلا بېلو برخو کې آسانتیاوې رامنځته شوي دي چې ور سره هېوادوال له ډېرو ګټو څخه برخمن شوي دي.»

ټکسي چلوونکی' سردارولي' هم د ورته پروژو خوښ دی او وایي: «د نوي سړکونو سره موټر چلوونکو ته د ترافیکي ګڼې ګونې څخه د خلاصون زمینه برابره شوې ده او ور سره د کابل ښار بېلا بېلو برخو ته تګ راتګ آسانه شوی دی.»

نوموړی وایي: «کابل کې نفوس زیات دی چې د اسلامي امارت په ځانګړې ډول د کابل ښاروالۍ دې برخه کې ځانګړې پاملرنه کړې ده چې د نوو سړکونو د جوړېدو سره یې د میلیونونو کسانو ستونزو ته د پای ټکی اېښودی دی.»

همدارنګه د احمد شاه بابا مېنې اوسېدونکي' احمد مختار ویلي' دي: «پخوا به سړکونه خامه ول چې د ډېر تنګوالي له امله ترافیکي ګڼه ګونه زیاته وه او ور سره د موټر چلوونکو تر څنګ د سیمې اوسېدونکي له ګنو ستونزو سره مخ ول؛ خو اوس چې سړکونه پراخه شوي، د ترافیکي ګڼه ګونې د کمښت تر څنګ ور سره د کابل ښاریانو ډېرې ستونزې حل شوي دي.»

د یادونې وړ ده چې د اسلامي امارت له لوري د کابل ښار اړوند په بېلا بېلو برخو کې ډېرې پراختیایي پروژې ګټې اخیستنې ته سپارل شوي او د سلګونو نورو پروژو کارونه جریان لري چې په بشپړېدو سره به یې د هېوادوالو ستونزې حل او ښاري آسانتیاوو ته به لاسرسی آسانه شي.

زیارمل هوتک

Hewad Daily

د ورځپاڼو رئیس: انجنیرعُزیر بریالی
آمر او مسئول مدیر: محمد قاسم عزام
مسئول سکرتر: شېرمحمد نظري
ډیزاینر: یما عرب
د ویبپاڼې مدیر : ګل ولي افغانیار
چاپ پته: آزادي مطبعه، اماراتي شرکت
پته: اتمه ناحیه د حضوري چمن ختیځ-کابل

بریښنایي بڼه
X
www.hewaddaily.com
info@hewaddaily.com
020-2526340
0766490049

اسعارو بیعه	
یو ډالر	٦٦.٠٥ اف
یو یورو	٧٤.٧٠ اف
یو پونډ	٦٦.٤٠ اف
یو درهم	١٧.٩٩ اف
زر ریال	٠٣٧ اف
زر کلداري	٢٢٩ اف
زر کلداري	٧٤١ اف

د هوا حالات	کابل	هرات	مزار شریف	کندهار	هلمند	فراه	غزنی	
٠٤:٤٠	٣١°C	٣٤°C	٣٩°C	٣٨°C	٤١°C	٤٤°C	٣١°C	٠٧:٠٨

د کورنیو چارو وزیر په پکتیا کې د پاکستان پوځي رژیم د وروستي برید د قربانیانو له کورنیو سره لیدنه کړې

د کورنیو چارو وزارت وایي، چې په دې لیدنه کې خلیفه سراج‌الدین حقاني، د پکتیا د ځمکنیو ولسوالۍ هغې سیمې کورنیو ته تسلیت ویلی، چې د پاکستان پوځ د وروستي برید له امله پکې ګڼ شمېر عام هېوادوال شهیدان او ټپیان شوي وو.

د یادې غمیزې د قربانیانو د کورنۍ یوه غړي وویل: د دې برید ټول قربانیان ملکي وګړي دي، چې ډېری یې ښځې او ماشومان دي.

دغه راز، د دې لیدنې پر مهال قومي مشرانو او مخورو د اسلامي امارت له لوري د ترسره شویو مرستو مننه وکړه، له زیانمنو کورنیو سره یې د نورو مرستو غوښتنه کړې او زیاته کړې یې ده، هغه ټپیان، چې لا هم د درملنې ...

۳مخ

د افغانستان او هند ترمنځ سیاسي او اقتصادي اړیکې د پیاوړتیا په حال کې دي

د افغانستان او هند د بهرنیو چارو وزارتونو ترمنځ د ګډې کمېټې څلورمه ناسته د هند د بهرنیو چارو وزارت په کوربتوب ترسره شوه. د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د خبرپاڼې له مخې، په دې غونډه کې د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت لومړي سیاسي پرکاش د خپلو پلاوو په مشرۍ ګډون کړی و.

په ناسته کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سیاسي او اقتصادي همکاریو د پراختیا، د ویزو د اسانتیاوو، د سوداګریزو ستونزو د حل او د صادراتو او وارداتو د پیاوړتیا په اړه خبرې وشوې.

دواړو لورو ټینګار وکړ، چې د متقابلو همکاریو د پراخولو او د سوداګریزو اړیکو د ودې لپاره به خپلې ګډې هڅې دوامداره ساتي.

همدارنګه، دواړو پلاوو د افغانستان او هند ترمنځ د سیاسي اړیکو د لا پیاوړتیا، د رئیس شعیب بریالي او د هند د بهرنیو چارو وزارت د پاکستان، افغانستان او ایران د چارو رئیس انند ډیپلوماتیکو تعاملاتو د پراختیا او د ګډو ګټو پر بنسټ د رغنده همکاریو پر دوام ...

۳مخ

محمودخان اڅکزی:

د افغانستان او پاکستان د اختلافونو د حل لپاره دې سیمه‌ییزه غونډه جوړه شي

په داسې حال کې چې د کابل او اسلام‌اباد اړیکې لا هم د امنیتي او سیاسي ترینګلتیاوو تر



سیورې لاندې دي، د پاکستان د اپوزیسیون مشر محمودخان اڅکزی د دغو اختلافونو د حل لاره په فشار او تقابل کې نه، بلکې په خبرو او ډیپلوماسۍ کې ویني.

ده په کویټه کې یوې غونډې ته د وینا پر مهال وړاندیز وکړ، چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د بې باورۍ د پای ته رسولو لپاره دې ملګري ملتونه د افغانستان، پاکستان، چین، ایران، تاجکستان او ازبکستان په ګډون د یوې غونډې نوښت وکړي، څو ټول لوري د خپلو امنیتي اندېښنو په اړه مخامخ خبرې وکړي.

اچکزي ویلي: «د ازبکستان، تاجکستان، چین، ایران، پاکستان او افغانستان په ګډون دې یوه غونډه جوړه شي. که څوک ادعا کوي، چې افغانستان له ترهګرۍ ملاتړ کوي، باید خپل ادعا ثابته کړي؛ که نه، موږ د داسې تورونو ملاتړ نه کوو.» په همدې حال کې، یو شمېر سیاسي شنونکي په دې باور دي، چې د کابل او اسلام‌اباد ترمنځ ...

۳مخ

کابل ښاریان:

د ښاروالۍ په هڅو د سړکونو پراختیایي پروژو ګڼې ستونزې هواري کړې

اسلامي امارت پر افغانستان د بیا ځلي واکمنېدو سره د هېواد په ګوډ ګوډ کې د بیا رغونې په بېلابېلو برخو کې ستر بدلونونه رامنځته شوي دي. په دې لړ کې د بیا رغونې نوې پروژې په ډېرو برخو کې پلي شوي دي چې ور سره د ګڼ شمېر هېوادوالو، موټر چلوونکو او مسافرو لپاره اړین سهولتونه رامنځته شوي دي. د کابل ښاریان چې د نورو زیات د سړکونو له پروژو خوښ دي وایي: د کابل په ښار کې چې کوم سړکونه نوي جوړ شوي، ور سره کابل ښاریانو، موټر چلوونکو او د سیمو اوسېدونکو ته اړینې آسانتیاوې رامنځته شوي دي. دوی وایي: پخوا به سړکونه خامه وو، چې د ډېر تنکوالي له امله ترافیکي ګڼه ګونه زیاته وه او ور سره د موټر چلوونکو تر څنګ د سیمې اوسېدونکي له ګڼو ستونزو سره مخ وو؛ خو اوس چې سړکونه پراخه شوي، د ترافیکي ګڼه ګونې د کمښت تر څنګ ور سره د کابل ښاریانو ډېرې ستونزې حل شوي دي.



په دې اړوند یو شمېر کابل ښاریانو د هېواد ورځپاڼې خبریال سره ...

۳مخ

محتسبینو د ۵ مېرمنو د جبري نکاح مخه ونیوله

د هېواد د امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت خبر ورکړی، چې محتسبینو یې په بېلابېلو ولایتونو کې ۵ مېرمنې له جبري نکاح څخه ژغورلې دي.

سرچینې په یوه خبرپاڼه کې لیکلي، چې د امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت اړوند د پکتیا، میدان وردګو، غور او بلخ ولایتونو محتسبینو پنځه مېرمنې، چې کورنیو یې غوښتل د زیاتو پیسو او ناوړه دودونو له امله یې د هغوی له خوښې پرته په نکاح ور کړي وژغورلې.

د خبرپاڼې د معلوماتو له مخې یادې مېرمنې، چې د ناوړه دودونو او زیاتو پیسو په بدل کې د هغوی له خوښې پرته په نکاح ورکول کېدلې ...

۲مخ

پروان کې له میلاد څخه ۳۰۰ کاله وړاندې جوړه شوې کلا ثبت شوه

د پروان د سیاګرد (غوربند) ولسوالۍ د فرنجل په سیمه کې یوه لرغونې تاریخي سیمه، چې د کافر کلا په نامه یادېږي او لرغونتوب یې له میلاد څخه شاوخوا ۳۰۰ کاله مخکې ته رسېږي، د لومړي ځل لپاره د تاریخي ابداتو په لېست کې ثبت شوه.

د پروان د اطلاعاتو او فرهنګ رئیس مولوي شمس الحق صدیقي باختر اطلاعاتي اژانس ته ویلي، چې یاده کلا د یوې غونډۍ پر سر په ډېر ستراتیژیک ځای کې رغول شوې



ګڼ شمېر امنیتي برجونه، یوه د ننوتلو لویه دروازه او لوړ دفاعي دېوالونه لري، چې د خپل وخت د پوځي او دفاعي

۲مخ

کندهار کې د طبي اکسیجن د تولید نوې فابریکه ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه

د افغانستان لپاره د یونیسف استازي تاج‌الدین اویوالي ویلي، چې د کندهار په میرویس ولایتي روغتون کې د طبي اکسیجن د تولید نوې فابریکه ګټې اخیستنې ته سپارل شوې ده.

نوموړي په خپله اېکس‌پاڼه کې لیکلي، چې دغه فابریکه د سویلي اسیا لپاره د یونیسف د سیمه‌ییز مدیر سنجي ویجسکرا په ملتیا، کندهار ته د وروستي سفر پر مهال پرانیستل شوه.

د ده په وینا، د دې پروژې موخه د روغتیایي خدمتونو پیاوړتیا او ناروغانو ته د طبي اکسیجن د دوامداره رسېدنې ډاډمنول دي.

د یونیسف د معلوماتو له مخې، د طبي اکسیجن دغه فابریکه به د نوي زېږېدلو ماشومانو، کوچنیانو، میندو او د بېړنیو څانګو ناروغانو لپاره ...

۲مخ

بهرني لنډ خبرونه

ایران :

بحرین، کویټ او یمن کې امنیتي وضعیت لا کړکېچن شوی

ایراني رسنیو خبر ورکړی چې بحرین، کویټ او یمن کې امنیتي وضعیت لا کړکېچن شوی او په بحرین او کویټ کې امریکایي اډو ته نږدې د چاودنو غږونه اورېدل شوي دي.

د بحرین د کورنیو چارو وزارت ویلي، د احتیاطي تدابیرو په موخه د دویم ځل لپاره په ټول هېواد کې د خطر زنګ وهل شوی دی.

له بلې خوا، یمني سرچینې وایي چې د صعده ولایت په فضا کې د دې هېواد هوایي دفاع له جنګي الوتکو سره مقابله کړې او د سعودي جنګي الوتکو د پرله‌پسې الوتنو ترڅنګ د صعده ولایت په شاوخوا سیمو کې د څو چاودنو راپورونه هم ورکړل شوي دي.

په ورته مهال، اکسیوس رسنۍ د امریکایي چارواکو په حواله راپور ورکړی چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د سعودي ولیعهد محمد بن سلمان سره په ټیلیفوني خبرو کې د یمن پر وړاندې د سعودي د احتمالي پوځي اقدام ملاتړ څرګند کړی دی.

اوکراین او نهو اروپایي هېوادونو د بالستیک توغندیو پر وړاندې دفاعي ایتلاف جوړ کړ

اوکراین او نهو اروپایي هېوادونو اعلان کړی، چې د بالستیک توغندیو پر وړاندې د ګډ دفاعي سیستم د رامنځته کولو لپاره یې نوی ایتلاف جوړ کړی؛ خو روسیې دغه ایتلاف «جګړه‌غوښتونکی» بللی او خبرداری یې ورکړی چې د اوکراین بریدونو ته به لا سخت ځواب ورکړي.

اسوشیټیډ پرېس راپور ورکړی چې دغه پرېکړه د دوشنبې په ورځ په پاریس کې د «چمتو هېوادونو ایتلاف» په غونډه کې اعلان شوه؛ په دې غونډه کې د اوکراین ولسمشر ولودیمیر زلنسکي او د فرانسې، جرمني، بریتانیا، ایټالیا، هالنډ، ډنمارک، ناروې، هسپانیې او سویډن مشرانو ګډون کړی و.

د دغو هېوادونو په ګډه اعلامیه کې راغلي: «زموږ موخه د اروپا لپاره د بالستیک توغندیو پر وړاندې د ګډ دفاعي توان رامنځته کول دي.» په اعلامیه کې ټینګار شوی، چې د روسیې د پراخو بریدونو ...

۲مخ

ډونالډ ټرمپ :

د ایران پر وړاندې سمندري کلابندي بېرته پیلوو

د امریکا ولسمشر، ډونالډ ټرمپ ویلي، چې د ایران پر وړاندې خپله سمندري کلابندي بېرته پیلوي او د هرمز تنګي له لارې د تېرېدونکو بېړیو څخه به د خوندي تګ راتګ په بدل کې فیس اخلي. ټرمپ په خپلې ټولنیزې شبکې «ټروث سوشل» کې لیکلي، امریکا به د «هرمز تنګي ساتونکی» وي او د نړۍ د انرژۍ لپاره د دې مهمې سمندري لارې د امنیت د ټینګښت مسؤلیت به پر غاړه ولري. ده زیاته کړې، هغه بېړۍ چې د امریکا تر امنیتي چتر لاندې له هرمز تنګي څخه تېرېږي، باید د ټاکل شوي فیس په ورکولو سره له دې خدماتو ګټه واخلي. نوموړي د دې تګلارې موخه د نړیوالې سوداګرۍ د خوندي ساتلو او د سمندري لارو د امنیت پیاوړتیا بللې؛ خو د دې پرېکړې د عملي کېدو د څرنګوالي او د فیس د اندازې په اړه یې نور جزییات نه دي ورکړي ...

۲مخ